مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني
۲۰۲۳/۰۵/۱۸

# ماشومه مینه

ماته یادېږی چې نیکه به مو کیسې کولې
د شاپېریو او انسان د مینې
د آدم زاد او د پېریان د مینې
ښځو او ټولو ماشومانو به وو غوږ نیولی
ټولو نیکه ته په ځیر ځیر کتله
او ده به نکل کاوه
ده به ویل چې ډېر کلونه مخکی
له کوه قاف ښخه راغلی پري
پر یوه دنگ پر یوه ښکلي ځوان مینه سوله
په نیمه شپه کی چې به ټول وګړي
غېږې ته ولاړل د خوږو خوبونو
او له ویالو به کله کله د چنګوښو نغمو
د شپې پر سترګو سکوت وتخناوه
پري به راغله د ښایستي سپیني کوترې په څېر
ویده زلمی به یې له خوبه ویښ کړ
شپه تر سهاره به په کټ کټ خندېدله سره
میاشتی کلونه تېر سول
پکښی وختونه تېر سول
زلمی به ورځ تر بلي
لکه رنځونو د کلو خوړلی
داسی تک ژړ داسی زهیر ښکارېدی
لکه دارو درمل چې نه پېژني
لکه چې هېر وي د همزولو د خپلوانو ښخه
ملا به کوډو په تعویذ او په دعا ستړی سو
د توري چرګي، تورپسه او تور غوایی وینې یې
د جومات مخي ته په څو ځلی رواني کړلې
زلمی رنځور سو لکه شمع داسی وننېدی
هغه کمزوری سو بې هوښه پرېووت
خلکو ویله چې د تالندي بربښنا په شپه یې
روح ملایکو ته تسلیم کړ کیسه ختمه سوله
زه وبرېدمه د پېریان له کیسو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د شاه پیرئ او ترابان له کیسو
له نیمی شپي  د هغه ځوان له کیسو
خو په ماشوم زړه کی می تل ویله
کشکي چی ماته هم په نیمه شپه کی
یو ځلی سپینه د نکلو کوتره
هغه ښایسته د افسانو کوتره
د شاپیریو د ښارونو د قصرو کوتره
را ښکاره سوې وای لیدلې می وای
په مینه مینه لوبولې مي وای
شپه تر سهاره خندولې می وای
اوس می یادیږي خپل ماشوم خیالونه
له لاسه تللي زما معصوم خیالونه
خدایه دا ټول باقي ژوندون درواخله
زه پنځه ورځي ماشومتوب غواړمه
چی د خوبونو سره لوبي وکړم
ښکلیو خیالونو سره لوبي وکړم
چی له نیکه چی له بابا می واورم
د کوه قاف د شاپیریو کیسي
سیف الملوک او د بدریو کیسي
هغه له اوسپني اودلي د ځپلیو کیسي
بیا می  د مور په زنګانه ویده سم
او په خپل خیال کی وینم
چی د بر کلي د زلمي په رسم
سپینه کوتره تر پالنګه راځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ